مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۵/۰۷

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

## (نولسمه برخه)

اسلام ته تصوف له کومه راغلی؟

دې خبرې ته مو مخکي اشاره وکړې ده چي صوفیان ځانونه تر ټولو بنده ګانو ښه او ټینګ مسلمانان بولي خو عقاید او اعمال یې له اسلام سره نه یوازي سر نه خوري بلکه، په ډېرو او حتی اکثرو ځایونو کي، مستقیماً ورسره مخالف دي. که څه هم د تصوف په مقابل کي متشرعینو ډېر زیات کتابونه لیکلي او د هغوی د منحرفو عقایدو او اعمالو په مقابل کي یې عملي اقدامات هم کړي دي؛ خو دلته موږ د ډېرو استنادونو لپاره ځای نه لرو او یوازي به د ابن جوزي یوه کتاب ته مراجعه وکړو.

ابوالفرج عبدالرحمن ابن جوزي ۱۱۱۶ـ۱۲۰۰ ، د یوه محدث، مورخ او متشرع عالم په حیث، څه باندي ۸۵۰ کاله پخوا د صوفیانو او تصوف د عقایدو او اعمالو په خلاف د « تلبیس ابلیس» په نوم کتاب کي د خپل عصر د صوفیانو د عقایدو او اعمالو په باره کي یو څه تفصیل ورکړی دی؛ خو له هغه وخته تر اوسه پوري د دې مسلک پیروانو، هم په عقایدو او هم په عمل کي، داسي انحرافات کړي دي چي د افغانستان په څېر وروسته پاته ټولنو کي، چي خلک یې زیاتره یا بېسواده او یا له واقعیتونو او حقیقتونو څخه بې خبره ساتل سوي دي، خاصه توجه ورته لازمه ده.

د افغانستان خلک د تصوف په فلسفه، ریښو تاریخ او عقایدو نه پوهېږي. هغوی ته یوازي د تصوف او صوفیانو افساني ، خُرافي کیسي، زیارتونه او پیراومرید رسېدلي دي چي هر یو یې د هري ټولني په تېره بیا وروسته پاته او نیستمنو ټولنو لپاره د زهرو حیثیت لري. ځکه نو باید خپلو لوستونکو ته وښیو چي د تصوف مفکوره، که څه مثبت اړخونه لري هم، په اسلام کي نه ریښه او نه سابقه لري او د صوفیانو اکثر عقاید او اعمال غیر اسلامي دي.

ابن جوزی لیکي چي د صوفیانو لومړني کسان ښه او پرهېزګار او پر شریعت برابر خلک ول خو وروسته یې کرار کرار شیطان لاره ووهله او له سمي لارې څخه یې منحرف کړل. دی وایي د ابلیس یو فریب دا وو چي دوی ته یې دا خبره تلقین کړه چي علم ته چنداني اړتیا نسته بلکه مهم د انسان عمل دی. ابن جوزي، تلبیس ابلیس ص ۱۹۵

ابن جوزي لیکي چي صوفیانو د خپلو پیروانو لپاره کتابونه ولیکل او په هغوی کي یې ګمراه کوونکي عقاید راوستل. ابونصر سراج د « اللمع فی التصوف » کتاب ولیکی او په هغه کي یې ډېر خراب عقاید ولیکل او وروسته ابوطالب مکي د « قوت القلوب» په نوم کتاب ورته ولیکی او په هغه کي یې جعلي احادیث ذکر کړل او د ورځي او د شپې مستحب لمونځونه یې پکښی راوستل او دغه راز یې دا فاسده عقیده بیان کړه چي خدای په دې دنیا کي خپلو اولیاوو ته ځان ځرګندوي. ویل کیږي چي په بغداد کي یې یوه ورځ په خپله خطبه کي ویلی وه چي « لیس علی المخلوق اضرَّ من الخالق» یعني هیڅوک مخلوق ته دونه تاوان نه رسوي لکه خالق چي یې ورته رسوي. خلک یې له مجلس څخه ولاړ سول او بیا یې وعظ ونه کړ. هغه کتاب ص ص ۱۹۶ـ۹۷

ابن جوزی لیکی چي د ابن طاهر په نوم یوه صوفي یو کتاب ولیکی او په هغه کي یې ښکلیو هلکانو ته د نظر کولو روایت ورکړی وو او د یحیی بن معین له قوله یې لیکلي وه چي « په مصر کي مي یوه ښایسته نجلی ولیده، صلی الله علیها!» چا پوښتنه ورڅخه وکړه چي پر ښکلي نجلی دي درود وایه؟ ده وویل بلي پر هغي نجلی او ټولو ښکلیو دي درود وي. ابن جوزي وایی ابوحامد غزالي د « احیاءالعلوم» په نوم یو کتاب ولیکی او په هغه کي یې پرېمانه جعلي احادیث ذکر کړل، او د فقه له قانون څخه یې تېری وکړ مثلا وایی چي صوفیان په ویښه ملایکي او د انبیاوو ارواحویني او د هغوی آوازونه اوري او کرار کرار یې مقامونه لوړېږي تر څو چي داسي ځایونو ته ورسېږي چي هغه د ویلو نه دي. هغه کتاب ص ص ۱۹۷ـ۹۸

ابن جوزي وایی د ابوحمزه په نوم یوه صوفي د طرسوس په جامع جومات کي وعظ کاوه چي په دغه وخت کي د مسجد پر بام باندي کارګه ناره کړه او ابوحمزه هغه ته په جواب کي وویل چي لبیک لبیک! ( لبیک د بادار ږغ ته په جواب کي ویل کیږي اومعمولاً بنده خدای تعالی ته لبیک وایي. لبیک لبیک الهم لبیک. لبیک لاشریک لکه لبیک. جهانی) خلکو پر هغه باندي د حلولي او زندیق حکم وکړ. هغه کتاب ص ۲۰۱

البته عطار تر دې لوی کفر کوي او په تذکرة الاولیاء کي لیکي. چي جنید بغدادي یوه شپه له خپل مرید سره روان وو او سپي وغپل. جنید هغه ته وویل لبیک لبیک. مرید پوښتنه ورڅخه وکړه چي سپي ته دي لبیک وو ایه؟ جنید وویل د سپي په قوت او غضب کي مي د حق تعالی قهر ولیدی او د حق تعالی د قدرت اواز مي واورېدی او سپی مي په مابین کي ونه لیدی، ځکه مي په لبیک جواب ورکړ. عطار، جلد دوم ص ص ۱۳ـ۱۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

جنید بغدادي ښايي دا خبره يا کړي او يا نه وي کړې؛ او ښايي د صوفيانو د نورو افسانو په څېر دا هم يوه افسانه وي؛ مګرسړی حيران پاتيږي چي عطار مسلمان وو چي دا کيسه يي ليکله؟ دا هغه شيخ عطار دی چی په دنيا کي به داسي صوفي نه وي چي د هغه نوم په احترام ياد نه کړي او داسي صوفي به نه وي چي د هغه تذکرة الاولياء او منطق الطير کتابونه يي لوستي نه وي او په کور او يا کتابخانه کي به يي نه لري.

رباط او خانقاه، چي د صوفيانو د جمع کېدلو، مجلسونو او نڅاوو ځای وو، د ډيرو زياتو اخلاقي او اجتماعي فسادونه مرکزونه وه. ځکه چي صوفيان ټول، يا مطلق اکثريت، مجردين ول او په يوه ځای کي چي په لس هاوو مجردين اوسيږي هغه ځای طبعاً د فساد په مرکز تبديليږي. له بلي خوا لکه څرنګه چي تصوف او د تصوف مفکوره په دين کي يو بدعت وو؛ دغه راز رباط او خانقاه پخپله يو بدعت وو. په رباطونو کي به صوفيان، د حق تعالی د ذکر او تسبيح ويلو تر نومونو لاندي را غونډېدل خو اصلي مطلب د نس مړول او د ګدايي پر کچکولونو را غونډېدل وه.

ابن جوزی ليکي: ی« يوه ورځ يوه رباط ته ولاړم او د يوه شيخ په باره کي مي پوښتنه وکړه. په جواب کي راته وويل سوه چي هغه د فلاني امير ليدلو ته تللی دی او د هغه د خلعت يا په انعام کي تر لاسه کړي لباس مبارکي ورته وايی. ما ويل ستاسي پر حال افسوس دی. دا لا بس نه وه چي په رباط کي مو دوکان پرانيستی دی چي اوس مالونه د خلکو درباړونو ته وړی. څوک چي کسب او کار نه سي کولای او يه يوه ګوښه کي ناست وي او په صدقه او خيرات ژوند کوی دا بس نه ده؟ اوس مو دوره ګردی ته لاس اچولی دی او د هغه او دغه ظالم حاکم مبارکيو ته ورځي چي ګوندي يو څه درکړي. په خدای مي دي قسم وي چي اسلام ته به هيڅا ستاسي په اندازه تاوان نه وي رسولی» هغه کتاب ص ۲۱۵

تصوف او صوفيګري په عمومي صورت د اسلام په دين کي يو بدعت دی چي له دين سره هيڅ ډول خپلوي نه لري. د دي مسلک د عقايدو او اعمالو بدي دا ده چي تاوان يي يوزاي د عقايدو په محدوده کي نه پاتيږي بلکه عمومي او اجتماعي زيان رسوي. تصوف له خپلو منحرفو عقايدو سره، افساني، زيارتونه، پيري او مريدي او قصدي او په لوی لاس ګدايی، پستي او بي غيرتي ورسره راوړه. د هغوی د سلهاوو او زرهاوو د نه منلو افسانو د خلکو پر اذهانو او افکارو باندي داسي بده اغېزه وکړه او کوي يي چي هغوی د علمي او منطقي فکر او قضاوت کولو څخه راګرځوي. هغوی داسي تلقين سوي دي چي د خدای دوستان او اولياء هر څه کولای سي. هغوی الوتلای سي، هغوی د خلکو په زړونو او نيتونو خبر دي، پاچهي خرابولای سي او په يوازي سرد ښېرو لښکرو مخه نيولای سي. هغوی هره شپه له حضرت رسول ص په خوب کي مجلسونه کوي او که وغواړي په ويښه يي هم ليدلای سي او لوی پيرانو او شيخانو ته د خدای له خوا مستقيم الهامونه کيږي.

د پيرانو دغه ډول افسانو له خلکو څخه د فکر کولو او منطق ويلو قدرت سلب کړی دی. هغوی دا فکر نه سي کولای چي پيران او اولياء له دونه قدرت او زور سره ولي د نورو په خيرات او صدقه ژوند کوي. ولي د يوه غريب سړي څخه توره چرګه په صدقه او نذر کي اخلي؟ ولی تعويذونه په پيسو خرڅوي؟ هيڅوک دا نه وايي چي پيران په حقيقت کي ټول بي غيرته ګدايان دي چي هيڅ کار روزګارنه کوي او که څه جايدادونه لري هغه هم يا بي عقلو مريدانو له خپله جهالته او يا پاچاهانو او واکمنانو، د خلکو د غولولو او خپلو قدرتونو د ټينګولو لپاره ورکړي دي.

شيخانو، د پيری او مريدی په رواجولو سره، له خلکو څخه د ارادي قدرت سلب کړی دی ځکه چي ځيني پيران ورته وا يی چي د پير امر د خدای امر دی. ځيني ورته وايی هغه صادق مريد نه دی چي د پير امر د خدای تر امر لوړ او معتبر ونه بولي

به می سجاده رنګين کن ګرت پير مغان ګويد
که سالک بيخبر نبود ز راه و رسم منزلها ( حافظ)
په شرابو کړه رنګينه مصلی که دي پير غواړي
چي سالک ته دي معلومي ټولي لاري منزلونه

ښايي دغه علت به وو چي يوه شپه شمس تبريز له مولنا سره په خلوت کي ناست وو؛ مولنا ته يي وويل چي يوې ښکلي ښځي ته مي هوا کيږي. مولنا خپله ښځه ورته راوستله او شمس ته يي وويل چي دا مي خورده او ستا په خدمت کي ده. شمس وروسته ورته وويل چي کشکي يو ښايسته هلک هم وای. مولنا خپل زوی سلطان ولد ورته راووست او ويل يي دامي زوی دی. شمس وروسته ورته وويل چي کشکي يو څه شراب هم موجود وای. مولنا سمدستي د يهودانو له ناحيي څخه شراب ورته راوړل. شمس وويل ما ستا حوصله او د پير د غوښتني اطاعت آزمايه. جامي، نفحات الانس ص ۴۶۶.

پيرانو او شيخانود خپلي پاچهی د پراخولو او دايمي کولو او د خلکو پر اذهانو باندي د جهالت د پردي غوړولو لپاره احاديث جعل کړي او خلکو ته وايی چي هر څوک بايد يو شيخ ولري څوک چي شيخ نه لري د هغه شيخ شيطان دی او يا څوک چي شيخ نه لري هغه دين نه لري. سوال دا دی چي که د پيرانو دا اعمال او عقايد اسلامي نه وي نو دا له کومه ځايه راغلي دي؟

د تصوف او صوفيګری په باره کي د ابن جوزي او د صوفيانو له نورو مخالفينو له کتابونو څخه ښکاري چي هغوی د صوفيانو غلط او نابلده عقايد او غير اخلاقي او له شريعت سره مخالف اعمال زياتره د هغوی خپل انحرافات او په اسلامي نړۍ کي دننه ستونزي بللي دي؛ او چنداني يي خارجي عواملو ته توجه نه ده کړي او يا يي ښايي د ګاونډيو هيوادونو او د اسلام د مفتوحه سيمو د اوسېدونکو عقايد نه وه لوستي؛ څو د هغوی عقايد او اعمال يي له خپلو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

صوفیانو سره مقایسه کړي وای. او د صوفیانو په عقایدو او اعمالو کي یې د ګاونډیو ملکونو په تېره بیا د هندوستان د هندو عقایدو اثر پلټلی وای.
عربو، د اسلام په لومړیو دوو پېړیو کي، داسي پراخ فتوحات وکړل چي هیچا یې انتظار نه درلود. دا کلونه د اسلام د پرله پسي بریالیتوبونو وختونه ول او مسلمانانو د فتح کړو ملکونو د خلکو علومو، فرهنګ او مذهبي عقایدو ته ډېره توجه نه وه کړې او د هغوی علوم او کتابونه په عربي ترجمه سوی ول چي په اسلامي عقایدو کي یې اثر احساس سوی وای. د هارون الرشید( ۷۶۳-۸۰۹) او د هغه د زوی مامون الرشید ( ۸۱۳-۸۳۳ د قدرت کلونه )، چي د عباسي سلسلې تر ټولو طلایی کلونه بلل کېږي، په زمانه کي هم د یونان او هم د هند او نورو ملکونو کتابونه عربي ته ترجمه سول؛ او طبیعي خبره ده چي دې پراخو ترجمو باید په اسلامي نړۍ کي خپل اثر پرې ایښی وای.
که د یوناني فلوطین ( ۲۰۳-۲۷۰ م) عقاید، چي ایراني محقق محمدعلي فروغی، څه کم ۹۰ کاله مخکي، د سیرحکمت در اروپا په کتاب کي په مختصر ډول را اخیستي دي، د مسلمانو صوفیانو له عقایدو سره مقایسه کړو نو ویلای سو چي د صوفیانو د وحدة الوجود عقیده باید د هغه د عقایدو اثر وي؛ ځکه چي دا عقیده نه په اسلام او نه له اسلام څخه مخکي په عربو کي موجوده وه.
فلوطین په دې عقیده دی چي د ټولو موجوداتو خالق لومړنی مبداء ده. او ټول موجودات بالاخره همدغي لومړني مبداء ته ستنیږي. د هغه موجد یا موجودونکي ذات واحد دی او احدیت یې له شمار او تقسیم څخه فارغ دی. هغه پر ټولو موجوداتو باندي محیط دی او وجود یې نامحدود دی. موږ نه سو ویلای چي هغه شکل لري او کنه. ښایسته او عاقل دی او کنه. دا ځکه چي هغه پخپله د شکلونو، ښایست او فکر او عقل منشاء او روح دی. فلوطین وایی موږ باید دا ونه وایو چي هغه عالم او درک کونکی دی ځکه چي هغه تر علم او ادراک مافوق دی. یا په بل عبارت هغه ته د علم او ادراک نسبت کول پخپله له توحید سره مخالف دی. یعني له ده څخه پرته داسي شی نسته چي ده ته دي معلوم سي. هغه د چا د ارادې تابع نه دی او په هغه کي هیڅ نقص نسته. هغه د ټولو موجوداتو او شیانو مجموعه ده مګر په شیانو کي یو هم نه دی. فروغي، جلداول ص ۵۲
فلوطین مبداء یا د ټولو موجوداتو مصدر کله په احد، کله په خیر، کله په مجرد فکر یا تام فعل افاده کوي مګر وایی چي په دې ټولو کي هیڅ یو د هغه د ذات افاده نه سي کولای. دی وایی چي مبداء کل تر توصیف او وهم او قیاس لوړ دی حتی هغه ته وجود نه وایي او هغه تر وجود او د وجود تر منشاء هم لوړ بولي. فلوطین وایی هغه ته د رسېدلو لپاره باید له حس او عقل څخه ور تېر سو او معنوي سیر او کشف او شهود څخه کار واخلو. هغه کتاب هغه مخ.
فلوطین دې هدف ته د رسېدلو لپاره توصیه کوي چي باید له مادي جهان څخه پرهېز وکړو او د عالم او معنا سیر او مشاهده وکړو. نو لومړی باید نفس تزکیه او ځان پاک کړو. ځانونه پستو غوښتنو څخه بېغمه کړو او بیا نو په سیر او سلوک پیل وکړو. هغه کتاب ص ۵۴
دا ټول هغه څه دي چي مسلمان صوفیان یې هم وایی او یا لرترلره دغه ته ورته نظریات بیانوي. صوفیان هم د حق ذات ته د رسېدلو لپاره تزکیې او د نفس پاکولو، پرهېز او ذکر ته ملا تړي څو په ځان کي حق ته د رسېدلو قابلیت پیدا کړي.
موږ مخکي د صوفیانه عشق په باره کي لنډ بحث وکړ او دا مو وښودل چي صوفیانو څرنګه د رحماني عشق په پلمه شیطاني عشق ته مخه کړې وه. خو فلوطین، لکه څرنګه چي یې له نظریاتو او لیکنو او د هغه د اخلاق او ژوند په باب له لیکنو څخه ښکاري حقیقتاً هم یو پاک او له دنیا څخه بې نیازه سړی وو؛ او څه چي ویل په هغه یې عمل کاوه.
فلوطین د عشق په باره کي وایی چي محسوسه او جسماني ښایی د حقیقي او رېښتوني ښایی یا ښایست یوه جلوه ده. دی وایي هغه شور او شوق چي د هنر خاوندانو ته د ښایست له لیدلو څخه ورپیدا کېږي خو د معنی خاوندانوته د جسماني ښایست له لیدلو څخه فضایل او کمالات حاصلیږي او دا هغه عشق دی چي د سیر او سلوک دوهمه مرحله او د نفس پاکي ده. فلوطین وایی په دې مرحله کي هم عشق بشپړ نه دی او کامل عشق هغه دی چي د جسماني ښایست څخه هاخواته متوجه سي یعني د ښایست اصل او آغاز یا مبداء ته توجه وکړی چي هغه خیر او ښېګڼه ده او د ټولو صورتونو مصدر او تر ټولو موجوداتو مافوق او خالق دی. هغه کتاب ص ۵۵
صوفیانو همدغه ویل مګر په عمل کي هغسي نه ول. موږ ولیدل چي د مولنا پلار بهاءالدین یا سلطان ولد له رحماني عشق او ښایست څخه څه منحرف مطلب درلود او شیخ اوحدالدین کرماني، چي ویل یې د « اوحد او احد» په منځ کي فقط یو واو دی او دی پخپله په حقیقت کي «احد» یعنی خدای دی، څرنګه د پې مخو هلکانو په سینو پوری سینه موښله او شیخ محمود شبستري یې پلمه ور جوړوله چي ګویا ښایسته هلکان د حق متعال د حسن ښکارندوی دي او صوفیان چي ښکلیو مخونو ته ګوري اصلي مطلب یې هغه ذات دی چي دغه ښکلا یې پیدا کړې ده. شیخ اوحدالدین کرماني وایي:

زان می نگرم بچشم سر بصورت
زیرا که ز معنی است اثر در صورت
این عالم صورت و ما در صوریم
معنی نتوان دید مگر در صورت. جامي، نفحات الانس ص ۵۹۰
ترجمه: موږ ځکه صورتونو ( ښکلیو) ته ګورو
چي په صورت کي د معنا اثر پروت دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دا عالم صورت دی او موږ هم ټول صورتونه ( اشکال) یو
که څوک غواړي چي معنا ووینې نو د صورت له لیدلو څخه پرته یې نه سي لیدلای.
البته عطار سفیان ثوري ته، چي صوفیانو په وچ زور صوفي او درویش ورڅخه جوړ کړی دی، یوه کیسه منسوبوي چي په حقیقت کي یې د صوفیانو مافی الضمیر بیان کړی دی. وایی چي سفیان یوه ورځ حمام ته تللی وو او یو ښایسته هلک حمام ته ور ننووت. سفیان ږغ کړه چي دا هلک وباسی چي له ښځي سره یو شیطان وي او له هلک سره ۱۸ شیطانان ملګري وي او د خلکو په سترګو کي یې ښکلي ښکاره کوي. عطار جلد اول ص ۱۷۶
د دې معنا دا ده چي صوفیانو پر خپل شهوت باندي غلبه نه درلوده او ښکلا ته یې د فلوطین په نظر نه کتل چي له ښکلا څخه به یې مطلب هغه خالق وو چي ښکلا یې پیدا کړې وه.
د زردشتي افکارو نفوذ:
د ایران د ساسانیانو د امپراطوری سقوط په سیمه کي د یوه ناڅاپی توپان او لویی زلزلي حیثیت درلود. ایران له پیړیو راهیسي د روم او یونان د امپراطوریو سره ډغري وهلي وي او ډېر ځله یې حتی د روم او یونان قوي پوځونو ته شکیتونه ورکړي وه. او په حقیقت کي د هغو دوو لویو امپراطوریو لپاره په اسیا کي تر ټولو غښتلی سیال قدرت وو. د ایران له سقوط سره مسلمانانو دونه قوت پیدا کړ چي په سیمه او نړۍ کي یې چا د فتوحاتو مخه نه سوای نیولای. د ایران له سقوط سره مسلمانانو ته دومره خزاني او شته منۍ لاسته ورغلی چي نه یوازي یې د علومو زده کولو ته فرصت پیدا کړ بلکه د نورو کلتورونو او مذهبونو د کتابونو د ترجمه کولو وس یې پیدا کړ او د همدغو نویو کتابونو لوستلو او ترجمه کېدلو په هغوی کي د نویو او بېلو فکري مکتبونو د منځته راتلو لپاره زمینه هواره کړه.
د یوې امپراطورۍ د فتوحاتو په سلسله کي یوه خاصه طبقه خلک شته من سول او ډېر زیات غنیمتونه یې ترلاسه کړل. شه مني او غنیمتونه له اسمانه نه راځي بلکه باید له یوې بلي طبقي خلکو څخه واخیستل سي. نو طبیعي خبره ده چي د دې فتوحاتو په سلسله کي که یوه طبقه خلک، چي نظامیان او اشراف ول، ببحده شته من سول نو په عوض کي یې ډېر زیات خلک له شتو څخه محروم سول. محروم او ناراض خلک ډېر ژر د تصوف د افکارو، چي د ابن جوزي په قول یې په لومړي سر کي یوازي د زهد او تقوا لاره نیولې او د وروری او مساوات تبلیغ یې کاوه، تر اغېزې لاندي راغلل او تصوفي افکارو، چي ډېر ژر پخپله پر مکتبونو ووېشل سول، ډېر زیات خلکو پهک تېره محروم او ناراض خلک، جلب کړل.
زه ګومان کوم چي مسلمانان باید د یونان له فلسفي افکارو څخه مخکي د ایران د زردشتي افکارو تر اغېزې لاندي راغلي وي. ځکه مخکي له هغه چي هغوی د یونان علومو او فلسفي افکارو ته لاره پیدا کړي، د ایران د ساسانیانو کتابخاني او تاریخي آثار لاسته ورغلل. زردشتي مذهب، چي پر ایران او د ایران تروا‌ک لاندي سیمو کي مسلط او منل سوی مذهب وو، یوه خدای ته عقیده درلوده، له مرګه وروسته ژوند، دوږخ او جنت، حساب او کتاب، پُل صراط او ملایکو ته یې عقیده درلوده او له دغه امله د مسلمانانو لپاره د علمي او مذهبي معلوماتو یوه نسبتاً باوري، یا لږ ترلږه نوې، منبع سوه.
شمس العلماء د زردشت د آثارو او متونو په حواله لیکي: « اهورا مزدا چي وروسته اورمزد و بلل سود حکمت د خدای یا حکیم خدای په معنی دی. هغه په هر ځای کي حضور لري، ټول قدرت د هغه په لاس کي دی او په هرڅه خبر او عالم دی. هغه نه څوک لمس کولای او نه یې لیدلای سي. صادق او عادل او رحمن دی. د هغو کسانو دوست او ملاتړ کونکی دی چي د ده دوستي غواړي او د هغه د دوستی سره مینه لري. اهورامزدا ډېر زیات صفتونه لري چي د ده د وجود افاده نه کوي بلکه هغه د ده عین ذات دی. د هغه مادي تجلا نور او اخلاقي تجلا یې حقیقت دی.
سپنتامینو یا مقدس روح د اهورا مزدا د ارادې او تفکر مظهر یا مقدس روح دی. . . د هغه په مقابل کي انګره مینو یا اهریمن دی چي د شر روح بلل کېدلای سي او د سپنتامینو په مقابل کي عمل کوي» رادا کریشنان، تاریخ فلسفه شرق و غرب. جلد دوم ص ۳
زردشت د اَویستا د کتاب په ۳۰ سرود کي وایي: اوس هغه خدای ستایم چي تر ټولو لوړ دی، چي د مخلوقاتو نېکخواه دی. هغه اهورامزدا دی او غواړم چي ماته د معرفت بهترینه پوهه را په برخه کړي» اوستا ص ۱۱۱
په یودېرشم ۳۱ سرود کي وایي: خدای د هستی جوهر دی. پهن دې دنیا کي یې داسي قانون او نظم ټینګ کړی دی چي د هغه په اساس خلک د نظم او عدالت په بهترینه طریقه ژوند وکړي او خپلي جسماني اړتیاوي پکښي پوره کړي او خپل ارواح د پوهي او معرفت په وسیله سنبال کړي» ص ۱۱۲
د همدغه سرود په یوه بله برخه کي وایي: « چي ښه فکر مي وکړ او ډېر زیات وخت مي پلټنه وکړه نو یوه سوم چي ته پیل او پای یا آغاز او فرجام یې. ته د نیکی او ښو اعمالو، نظم او قانون خالق یې او ته مي د خپل فکر او غور له لاري پیدا کړې» ص ۱۱۳
کله چي د واحد خدای د پېژندلو او معرفت خبره کیږي نو د زردشت او د مسلمانو صوفیانو خبري ډیري سره ورته دي. زردشت په دري څلوښتم ۴۳ سرود کي وایي: « کله چي د خدای د پېژندلو خبره سي نو لومړی باید د انسان ضمیر، وجدان او د روح هینداره پاکه وي. او دا پاکي د وَهومَن یا د علم، درک او طبیعت یا خصلت د پاکی له لاري ترلاسه کیږي. هغه وخت نو د خدای نور د دغه ډول انسانانو په سینو کي جلوه کوي» ص ۱۲۲
په ګاتهای زردشت یا د زردشت په سرودونو کي هر وخت خدای ته یو او لاشریک ذات خطاب سوی دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

« ای د عقل خدایه! کله چي دي د ازل په ورځ جسم او وجدان خلق کړل او له خپل طبیعت څخه دي د فکر کولو او عقل قوت ور وباخښه. هغه وخت چي خاکي وجود ته دي روح ورکړ او انسان ته دي د کارکولوو خبرو کولو او رهبري کولو قوت ورکړ نو تا وغوښتل چي هر څوک د زړه په غوښتنه او په ټوله آزادي خپل ځانته مذهب انتخاب کړي. آذر گشپ، گاتهای زردشت، ص جلداول ص ۲۴۰
پروردگاره! ته به د خپلي جنتي رڼا په برکت موږ ته څشي را وبخښې؟ هغه نېکمرغي چي د ریشتیا او پاکۍ په رڼا کي تر لاسه کیږي او له ټولو سره وعده سوې ده هغه به کومه یوه وي؟ د پوهانو په برخه کي څه فرمان صادر سوی دی؟ اې د عقل خدایه ما له دې ټولو شیانو څخه خبر کړه او په خپله الهام بخښونکې وینا سره ماته روښانه کړه چي ټول خلک د ریشتیا دین ته را وبولم. هغه کتاب ص ۲۰۰
که څه هم چي له اسلام څخه مخکې د مکې د کفارو ځینو کسانو آخرت او پسله مرگه ژوند ته عقیده درلوده مگر د مسلمانانو لپاره، د زردشت په دین کي، د دې عقیدې موندل په زړه پوري ول. ځکه چي عمومي عقیده پر دې وه چي د زردشت دین د آتش پرستۍ او لمر پرستۍ دین دی. خو مسلمانانو ولیدل چي زردشت یوه خدای ته د عقیدې تر څنگ پل صراط او د آخرت انعام او سزا ته معتقد دی:
« څوک چي د ریشتیا او پاکۍ لاره غوره کړي او پرهېز گاري وکړي د هغه ځای به د نور کور یا جنت وي او دروغجن او بدکاره انسانان به د ډېر وخت لپاره په ډېر افسوس سره په تیاره او د اور په روښانه کُره کي تیري کړي. حقیقت دا دی چي دا د یوه گناه کار بد نیت او بد اعمال دي چي هغه ته یو بدبخته ژوند او د وجدان عذاب ور په برخه کوي» هغه کتاب ص ۲۸۳
له حق متعال سره هغه وصال، چي په وروسدته کي د صوفیانو په ادبیاتو کي ډېر زیات په سترگه کیږي هغه د زردشت په سُرودونو کي راغلی وو.
« پروردگاره! زه له تا څخه سوال کوم چي که د ښه نیت او عقیدې یو څښتن په خپل ټول طاقت د کورنۍ او ښار او هیواد د ترقۍ لپاره ملا وتړي او د ریشتیا او پاکۍ د ترویج او پرمختگ لپاره کار وکړي هغه ته به ستا وصال په نصیب سی؟ اې اهورا مزدا کله او څرنگه به دغه آرزو پوره سي؟ » هغه کتاب ص ۲۶۵
په همدغه ارتباط په یوه بل سرود کي لولو: « خپل هدف او آروز ته د رسېدلو لپاره هغه فرشته چي ستا دوستانو ته پیغامونه رسوي خپلي مرستي ته را بولم او هیله لرم چي اوږد ژوند مي په برخه او پاک هیواد ( کشور) ته داخل سم. هیله لرم چي د ریشتیا، پاکۍ او پرهېز او زهد په مرسته هغه ځای ته ورسېږم چي د اهورا مزدا اسماني پاچهي ده» هغه کتاب ص ۳۹۹
« اې مزدا! د حقیقت مینان او ستا عاشقان به د عقل او تقدس په رڼا کي بالاخره تاته ورسیږي او ستا سره به یو ځای سي» هغه کتاب دوهم جلد، ص ۱۱
هغه صوفیانه عشق چي موږ مخکي ورباندي وږغېدلو د زردشت په سرودونو کي، په ډېر څرگند ډول لیده کیږي او سړی داسي فکر کوي چي گوندي مسلمانو صوفیانو به دا مفهوم له دغه سرودونو څخه اخیستی وي:
« اې د هستۍ یوازنی خالقه! ستا څخه سوال کوم. هیله لرم چي حقیقت راته څرگند کړې. اې مزدا څرنگه ستا په رهنمایی خپل هدف او آرزو ته، چي ستا وصال ــ او معشوق ته رسېدل دي، رسېدلای سم. پروردگارا! کله ستا د قانون او آسماني پیغامونو په رڼا کي ، چي بهترین رهنما دی، کولای سم چي په روانو او موثرو ویناوو سره خلک و هغه والا او همېشگي مقام ته رهبري کړم؟» هغه کتاب ص ۱۳۹
د حق متعال وحدانیت، زهد او تقوا، پسله مرگه ژوند، جنت او دوږخ، پل صراط دا ټول هغه مفاهیم دي چي مسلمانانو فکر کاوه یوازي د اسلام په دین کي پېژندل سوي او یوازي مسلمانان ایمان ورباندي ولري. دغه راز له حق متعال سره لیدل، هغه ته رسېدل او له هغه سره مینه کول هغه صوفیانه مفاهیم دي چي د اسلام په دین کي یې یادونه نه وه سوې او خلکو د صوفیانو اختراع بلله خو وروسته څرگنده سوه چي یوازي مسلمان صوفیان نه دي چي له دې مفاهیمو سره بلد دي بلکه په نورو مذهبونو کي له دوی څخه قرنونه مخکي د هغو مفاهیمو یادونه سوې وه.
البته له خدای سره د زردشت د عشق او د صوفیانو د عشق تر منځ دا توپیر دی چي زردشت د ریشتیا ویلو، نېک کردار او د خلکو د رهنمایی په بدل کي خدای ته رسېدل او له هغه سره یو ځای کېدل غواړي مگر صوفیان چي کله عشق یادوي نو دومره له حاله وزي چي کفر او اسلام یو بولي. داکتر قاسم غني د شیخ فریدالدین عطار د منطق الطیر له کتاب څخه څو بیتونه انتخاب کړي او موږ په هغو کي هم انتخاب کوو:

هر که را در عشق شد محکم قدم
برگذشت از کفر و از اسلام هم
عشق سوی فقر در بگشایدت
فقر سوی کفر ره بنمایدت
عشق را با کافری خویشی بود
کافری خود مغز درویشی بود
چون تر این کفر و این ایمان نماند
آن تن و دل گم شد و آن جان نماند. غني، تاریخ تصوف در اسلام، جلد دوم و سوم ص ۲۲۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټر قاسم غني د منطق الطیر له کتاب څخه ډېر زیات بیتونه را اخیستي دي خو موږ یې دلته ځای نه لرو. د عطار له پورتني شعر څخه سړی دا قضاوت کولای سي چي فقها او مُلایان په ناحقه د صوفیانو سره مخالف نه ول او ابن جوزي، ابن تیمیه او نورو فقهاوو د هغوی پرضد بې دلیله کتابونه نه لیکل. عطار په خپل دې شعر کي په څرګنده وایي چي سړی باید د عشق په لاره کي له کفر او ایمان څخه تېر سي. سړی نه پوهېږي چي ایمان او اسلام ولي باید د عشق په مخ کي خنډ او مانع وي چي سړی باید د هغوی سرحدونه مات کړي. او که صوفي ځانته مسلمان وایي نو د اسلام او کفر تر منځ سرحد خو د اسلام تر ټولو مهم رکن دی. که چیري څوک دا سرحد نه مني بیا خو مسلمان نه سو. حتی عطار خو وایی چي عشق به دي فقر او فقر به دي کفر ته ورسوي. ګواکي دلته د عطار غایی او اصلي هدف کفر ته رسېدل دي. عطار وایی عشق له کافرۍ سره خپلوي لري او کافري د دروېشی مغز دی. دا کلمات به صوفیان څرنګه تعبیروي هغه د دوی زړه دی خو چي هر ډو ل تعبیر سي له اسلامي عقیدې سره جوړ نه راځي. عطار چي له کفر او کافر څخه هر تعبیر او مطلب لري هغه د عطار خپله خوښه ده خو مسلمانان کفر او کافر ته په هغه سترګه ګوري او په هغه شکل یې د دین دښمن بولي چي په قرآن شریف کي یې ذکر سوی دی.

صوفیان له نفس سره د مبارزې لپاره د لوږي، بې خوبی او په شپو شپو طاعت توصیه کوي او حتی ویل کیږي چي د صوفیانو یوه مشر به د شپې طاعت او نفلونه کول او د شپې په یوه برخه کي به یې ځان په لښتو واهه او کله چي به لښتي ټولي ماتي سوې نو بیا به یې ځان د مسجد له دیوالونو سره جنګاوه. په زړه پوري خبره ده چي په اویستا کي له دغه راز یوه متن سره مخامخ کیږو؛ چي د ځان د وهلو توصیه کوي.

« زردشت له اهورا مزدا څخه سوال وکړ چي یو دینداره او پرهېزګاره سړی په څه ډول مراسمو ستا رضا او خوښي تر لاسه کولای سي؟

اهورا مزدا ورته وویل: مومنان باید درې شپې او درې ورځي ځانونه پاک ومینځي. او بیا نو ځان دېرش شلاقي ووهي؛ څو له ګناهونو او آلودګیو څخه پاک سي. بیا نو دوهم ځل دوې شپې پرله پسې ځان ومینځي او وروسته نو ځان شل شلاقي ووهي څو له تېرو ګناهونو او چټلیو څخه پاک سي. مخکي له هغه چي زَور (مقدسي اوبه ) وڅښي باید چي د لازمو سرودونو د ویل کېدلو په مراسمو کي برخه واخلي » اوستا ص ۳۸۶

عجیبه نه ده چي اهل تشیع د امام حسین د شهادت په ویر کي ځانونه وهي او حتی هغه کس تر ټولو ښه مسلمان بولي چي ډېري ویني یې تویی سي او که څوک په دې وهلو کي مړ سي هغه پاک شهید وي.

تر ټولو په زړه پوري د زردشت د مذهب د یوه مهم مذهبی مشر معراج دی چي زیاتره د بایزید معراج ته پاتیږي. په دې مضمون کي مي یوازي د دبستان مذاهب له متن څخه استفاده کړې ده. د دبستان مذاهب لیکوال ادعا کوي چي پخپله یې د زردشتي دین له پیروانو سره خبري کړي او دا کیسي یې ورڅخه اورېدلي دي. په کتاب کي راغلي دي:

کله چي د اردشیر پاپکان پاچهی قایمه سوه نو هغه ۴۰زره موبدان او نیکان را وغوښتل او له هغوی څخه یې ۴زره تنه انتخاب کړل. له هغوی یې ۴ سوه انتخاب کړل او له هغوی څخه یې ۴۰ تنه او له ۴۰ تنو څخه یې ۷ تنه وټاکل او هغوی ته یې وویل چي له تاسي څخه کوم یو له تن څخه بېلېدلای سی او ماته د جنت او دوږخ احوال راوړلای سی. هغو ۷ تن و ورته وویل چي د دې کار لپاره داسي یو څوک لازم دی چي په ټول ژوند کي یز یوه ګناه هم نه وي کړې او دا سړی به په موږ کي « اردا یوویراف » دی. اردایوویروف د می پښته څخه یو جام ډک کړ او هغه یې وڅښی او ۷ ورځي بیده سو. په اوومه ورځ له خوبه پاڅېد او وې ویل چي یو څوک دي زما ټولي خبري ولیکي. ده وویل:

« کله چي بیده سوم نو سروش یا بهشتي فرشته راته راغله او ما سلام ورته وکړ او هغه بل جهان ته د تللو په باره کي مي خپل نیت ورته ووایه. سروش له لاسه ونیولم او راته وې ویل چي درې ګامه مخ په پورته . درې ګامه مي واخیستل او پل چینوت ته چي صراط دی ورسېدم. یو پُل مي ولیدی چي تر وېښته نری او د آس د لکی تر وېښته تېره وو او ۳۷ ګزه اوږد وو. هغه روح چي مي له تن څخه بېل سوی وو هغه مي ولیدی چي ډېر هوسا وو او چي د چنوت پل ته ورسېدی نو له مشرق څخه یو باد راغی او له هغه څخه یوه ښکلي حوره جوړه سوه چي په ژوند کي مي داسي ښکلي نه وه لیدلي. زما روح سوال ورڅخه وکړ چي ته څوک یې؟ حوري ورته وویل چي زه ستا نېک عمل یم. سروش وروسته عرش ته بوتلم او هلته مي یزدان ته سجده وکړه او داسي نور وو چي سترګو مي د لیدلو تاب نه درلود.

وروسته سروش بیا چینوت پُل ته راوستلم. هلته مي خلک ولیدل چي لاسونه یې یوپر بل ایښي او ولاړ ول. ما ویل دا څوک دي؟ سروش ویل دا سست دینان دي. که په یې په ژوند کي د ښانو د وېښته په وزن ثواب زیات وای نو په دې بلا به نه اخته کېدلای. اوس به د قیامت تر ورځي پوري همداسي ولاړ وي.

وروسته سروش بهشت ته یوړم. هلته مي داسي انوار ولیدل چي ګوهر یې ما په هیڅ ځای کي نه وه لیدلي. په هغه ځای کي مي ښځي ولیدلي چي ډېري خوشاله وې او مذهبی سرودونه یې ویل ما سوال وکړ چي دا څوک دي. سروش ویل دا هغه ښځي دي چي د خپلو مېړونو فرمان ته یې غاړه ایښي وه. بیا مي یوه ډله خلک ولیدل چي وسلې ورسره وې ما ویل دا څوک دي؟ سروش ویل دا هغه پهلوانان دي چي د خدای په لاره کي جنګېدلي دي. زه به د حورو، قصرونو، هلکانو او غلمانو په باره کي څه درته ووایم چي ساری یې په دې دنیا کي نسته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وروسته سروش د دوږخ خواته بوتلم او هلته مې د چتلو او وروستو اوبو يو رود وليدی چې انسانان پکښې ډوب ول او فرياډونه يې کول. ما ويل دا څوک دي. سروش ويل دا هغه کسان دي چې خپلوانو يې له مرګه وروسته پسې ژړلي دي او د هغوی له اوښکو څخه دا رودونه جوړ سوي دي او دوی پکښې ډوب دي.
وروسته له سروش او اُرديبهشت سره ولاړم او ومې ليدل چې ډېر سوړ او بدبويه باد چليږي. زموږ لاره په تياره کې وه او په لاره کې کوهيان ول. په يوه ځاه کې مې وکتل ډېر زيات ارواح مې وليدل چې په عذاب ګرفتار ول او فرياد يې کاوه. د هغه ځای درې ورځې عذاب د دې دنيا ۹ زره کاله عذاب دی. په هر ځاه کې ماران، لړمان او حشرات ول.
يوه ښځه مې وليدله چې د وينو او زووب څخه ډک کټوری يې په لاس کې وو او په لرګيو يې وهله او هغه ويني او زووب يې د وهلو په زور په چښل. او چې هغه کټوری به تش سو بل به يې په لاس کې ورکړ. ما ويل دا څوک ده؟ سروش ويل چې دا ښځه د حيض په حالت کې اور او اوبو ته نيژدې سوې وه.
يو بل سړی مې وليدی چې په ښنه ځړېدی او په چاړه يې پوست ورڅخه ليري کاوه او چيغې يې وهلې. ما ويل دا څوک دی ويل يې قتل يې کړی دی. يو بل سړی مې وليدی چې ويني او زووب يې په زور په چښل، شکنجه کاوه يې او پر سينه باندې يې يو غر پروت وو. ما ويل دا څوک دی سروش ويل دا د زناکار روح دی. يوه ښځه مې وليده چې په تيو ځړېده او حشرات وربانديې را تول ول او چيچل يې. ما ويل دا څوک ده؟ سروش ويل دا دهغې ښځې روح دی چې خپل مېړه يې پرې ايښی وو او له بل چا سره تللې وه.
يوسړی مې وليدی چې ځړېدلی وو. ۷۰ ديوان وربانديې را ګرځېدلې ول او په شلاقو يې واهه. د ديوانو شلاقې له مارانو څخه جوړی سوی وې او چې هر ځل به يې په شلاقه وواهه نو مار به وچيچی. ما ويل دا څوک دی؟ سروش ويل دا د هغه پاچا روح دی چې له خلکو څخه يې زر په زور اخيستل.
يوه ډله خلک مې وليدل. رنګونه يې ژړ او اندامونه يې له چينجيو ډک ول. سروش ويل دا د منافقانو ارواح دي چې د ابليس کارونه يې کول. ژرونه او خوله يې سره يو نه وه او ديندار خلک يې له لارې ايستل او خپل دين يې په مانه. يوه ښځه مې وليده چې اذربانانو په واوره کې غورځولې او وهله يې. سروش وويل دا د هغې ښځې روح دی چې سر يې ږمونځاوه او وېښتان يې په اور کې لوېدلي ول. يوه بله ښځه مې وليده چې د خپل بدن غوښې يې خوړلې. سروش وويل دا جادوګره وه او خلک يې جادو کول.
وروسته سروش بېرته جنت يا خلد برين ته يا عالي جنت ته بوتلم چې هغه ته مينو هم ويل کيږي. هلته مې د دادار يا خدای نور وليدی. بېهوښه سوم او داسې اواز مې غوږ ته راغی چې روح يې تازه کاوه: « تا له ريښتونې دين سره سم ښې خبرې او ښه عمل کاوه او د عقل په زور دې هغو ديوانو ته چې ستا په وجود کې دې شکست ورکړی دی ځکه نو دغه مقام ته رسېدلی يې» وروسته نو سروش تر لاس ونيولم او راته وې ويل چې هغه څه چې دې ليدلي او اورېدلي دي خلکو ته يې ووايه. وروسته يې زه راکښته کړم او جنت ته يې ورسولم. وروسته مې ارواح وليدل چې ماته راغلل او راته ويې ويل چې زموږ خپلوانو ته نصيحت وکړه. که موږ هم ښه کارونه کولای او د دين له احکامو سره مو رفتار کولای نو په جنت کې به وای او دغه حال ته نه رسېدلو. فاني، دبستان مذاهب. ص ص ۹۴-۹۹
موږ ګورو چې مسلمانان، د لومړي ځل لپاره، د داسې دين سره مخامخ کيږي چې هغه غيرابراهيمي وو مګر تقريباً ټولو هغو شيانو ته يې عقيده او پر هغوی باندې ايمان درلود چې د اسلام په دين کې اشاره ورته سوې وه. مسلمانانو وليدل چې زردشتي دين، د دوی د انتظار په خلاف، وحدانيت، پسله مرګه ژوند او قيامت، جنت او دوږخ، پسله مرګه روحي عذاب، پل صراط ( په هغو صفاتو چې دوی عقيده ورته درلوده) حساب و کتاب، فرشتو، د خدای له جانبه الهام او . . . ته عقيده درلوده. طبيعي خبره ده چې مسلمانان به د دې دين د نورو اصولو د مطالعه کولو په ترڅ کې د زردشتيانو د عبادت طرز او په هغه ضمن کې زهد او تزکيې ته هم متوجه سوي او اخيستنه به يې ورڅخه کړې وي.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاين کې پورتال د ليکوال آرشيف]



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ